آصف بهاند ۲۰۱۴/۰۴/۰۵

# داسې څوک نه شته چې دا اور مړکا؟

دا کرښې او دا شعرما په « سرينا مسلخ » کې د قصابي شوو افغانانو له پاره ليکلي او برابرې کړې وې،سره له دې چې يوڅه نا وخته شوې ده، بيا يې هم خپروم او تاسوته د خپل زړه د وير پرتغر د يو څو شيبو دناستې بلنه درکوم.

اورونـه بـل دي کـوروـنـه سيځي،
سکروټې دل دي دودونـه خـيژي،
داسې څوک نه شته چې دا اورمړکا؟؟؟

دغه اورونه کلونه پخوا بل کړای شوي دي، چې تر نن پورې يې زموږتول، موږته مالوم اونامالوم مادي اومعنوي شته سوي دي.اوس هم دا اور بل دی، لمبې او لوخړې يې پاس آسمانونوته رواني دي او د مظلومانو آهونه د لوګو پر وزرو د خدای دربار ته دعرض له پاره روان دي.
دغو لمبو او دغو اورونو د وخت له بدلون سره خپله بڼه اوچل بدل کړی دی، يوازې دا افغانان دي چې ورته اړم دي، نه بدليږي او هماغسې يې ځان ورته نيولی دی، خپل ژوند او د خپلو راتلونکو ژوند ورباندې سوځوي او...
او زموږ شاعرو يارانو هر يوه د خپل فکر په دايره کې د اور بليدل، د اور د بلوونکو او په اور باندې د سوځيدونکو حالت نقاشي کړی دی، چې دلته به يې د مثال له پاره يوازې يوه نمونه د«سرينا مسلخ» دپيښې په خاطر وړاندې شي.
کلونه پخوا، چيرې په کوم پردي وطن کې مې زړه تنګ شو، له کوره ووتم، د زړه تنګ والی مې پسې زياتيده او په هماغې تنګې دايره کې د غم او ځګرې ماشومان په چيغو او ژړا سروو او زه يې پسې عذابولم.نور داسې شوم لکه چامې چې پر زړه غرونه راته ايښي وي. په هغه وخت کې يوشعر راپه زړه شو او څوځلې مې بيا بيا له ځان سره تکرارکړ، ځان مې ورباندې غولاوه، خونه کيده.هغه شعر دا دی:
«زه چيرته لرې
په پردي وطن کې
يوخوله ترلی بلبل
ستا د يادو
د اور خليل يم،
خوګلزارکې سوځم»
د دغسې خيال پلو په پلمه به مې چې هرڅه د فکرلورې ته بدلون ورکاوه، نه به کيده.د فکرماشوم نورد پرديسی اوغمونو د اور په دايره کې ځوان شوی څه چې لا بوداتوب ته نږدې شوی و، او د غوليدلو له دايرې نه يې پښه د باندې ايښې وه.
سره له دې چې له ځانه مې «خليل» جوړ کړی و، خو ناڅاپه مې پام شوچې:
وطن پردی،
چاپيريال پردی،
ليدل کتل او هرڅه پردي،
راخه لړ خپل خلک او خپل لاروبان پيدا کړه او څه غم ورسره غلط کړه.همداسې مې وکړل.څو شاعردوستان او څو شعرخوښوونکي دوستان مې راوبلل، آزاده مشاعره موجوړه کړه.ټول حاضرين د بې وطنی اوهجرت آليلي وو، نومشاعره يې په دې بيت سره پيل کړه:

«ما باندې وطن کې د ځوزانو بړستن واچـوئ
زه پَردي وطن کې د وريښموکمپل نه غوارم»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولـئ

مشاعره ډېره خوندوره او رنګينه وه، ويډيويي اوس هم زما په آرشيف کي خوندي ده.په مشاعره کي ګڼو دوستانو خپل شعرونه او خاطرات واورول، ځينو شاعرانو په خپلو شعرونو کي د جګړې، د جګړې دلوګو،اورونو او د اورونو د بلونکو په باب خبري وکړې.
زموږ د بزمونو شاعر، د رنګونو او خوندونو شاعر او د عجيبو انځورونو شاعر لطف الرحمن خاموش هم په دي مشاعره کي حضور درلود.خاموش صاحب په دې مجلس کي دوه شعرونه واورول، چي په يوه کي جنګ او د جګړې لوګي په هنرمندانه ډول انځور کړای شوي دي، عنوان يي دی «اور او شمال».زه به دا اور او دا شمال تاسو درنو دوستانو سره د نوي کال په شپه د«سرينا مسلخ» ا ويه ټول افغانستان کي د قصابي شوو انسانانو د قصابي کيدو په خاطرشريک کړم:

## اور او شمال

اورونه بل دي، کـورونه سيځي
سـکروټـي دل، دودونه خـيژي
داسي ځوک نه شته چي دا اورمړکا؟
ککرۍ وسوې، سـرونـه وسول
د بريتـورو، بـريتـونه وسول
د ښکلوپيغلومـيني پرې وسوې
د ږيرورو ږيرۍ پرې وسـوې
داسي ځوک نه شته چي دا اور مړ کا؟
ممانې وسـوې،کـرکنې وسـوې
د ونو ځانــګې، اوخنې وسوې
کوترې وسوې،چڼ چنې وسـوې
توتکۍ وسوې، اوغنې وسوې
داسي ځوک نه شته چي دا اور مړ کا؟
تيرې پخې شوې،ګټې پخې شوې
د خـامـومينو،ختې پــخــې شوې
دا مـتې خاورې، متې پخې شوې
اورونه بل دي،کورونــه سيــځي
سکروټې دل دي،دودونه خيژي
داسي ځوک نه شته چي نه شته چي دا اورمړکا؟
دا خو شمال و،چـي اوريي راوړ
آرام يي يــووړ، اوشوريـي راوړ
ځوچي دا اور وي،داسي شمـال وي
کوربه موخور وي،دا به موحال وي
خـدايه تبــاه کـړې دشمال مينــه
چي پرې سړه شـــي زموږه بينـه

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ